# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد    بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم    از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com    www.afgazad.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |



انجنیر سید عبالقادر


۲۱ ـ ۶ ـ ۲۰۱۰

## دولسي جرګي راتلوونکي تاکني به حتی

## د مصنوعي مشروعیت لرونکي هم نه وي !

**مخ کي تردې چې دولسي جرګي دټاکنو پر مشروعیت باندي د اساسي قانون په نظرکي نیولو سره لږ څه مکث وکړو ، باید ووایو چې دا یو ښکاره حقیقت دي چې دهرهیواد ولس چې دپردو تر اشغال لاندي شپي او ورځې تیروي ، نو په دې پروسه کښې معلومه خبره ده چې ټول قوانین او مقررې دپردو دهیلو او ګټو سره سم ولي دهغو ولسونو دارادې څخه لیري تدوین او عملي کیږي ۰ ځکه نوویلاي سو چې ددې ولسونو په وړاندي دګوډاګیو دولتونو ټولي هلي ځلی دهیڅ نوع مشروعیت قابلیت نه لري ۰**

اوس به وګورو چې دولسي جرګي د راتلوونکو ټولټاکنوپروسه دافغانستان داساسي قانون سره په څونه تقابل کي قرار نیولي دي ، هغه دا چې :

"محترم کرزي" داپریل دمیاشتي په لومړي نیټه دټولټاکنو دکمیسون سره په لږ څه پراخه غونده کي دکمیسون د مشر تابه څخه دقدرداني دویلو تر څنګ ، دجمهوري ریاست دټولټاکنو په پروسه کښې دنړي پر ځینو هیوادونو، اوپه افغانستان کي دملګروملتونو ددفتر پر معاون باندي سختي نیوه کي و کړي ۰چې په کورنیو او بهرنیو رسنیو کښې دپراخ انعکاس تر څنګ بیا یو شمیر افغاني آزاد سیاسي کار پوهانو دا څرګندوني دکرزي او غربي نړي تر منځ یو زرګري جنګ وباله ۰ ولي "محترم کرزي" دنورو نیوکووتر څنګ ولسي جرګه هم تر انتقاد لاندي راوستل ۰ او زیاته یي کړه ، چې ولسي جرګي باید دټولټاکنو هغه نوي قانون چې دحکومت دلاري څخه ولسي جرګي ته استول سوي وو، باید داساسي قانون د۱۰۹ می مادې په نظر کي نیولو سره دهغو دتائید وړ ګرځید لي واي ، ولي متا

سفانه چی دهغوي له خواه څخه داقانون رد او تصویب يي نه کړ ۰ ولي دمحترم کرزي دهيلو خلاف دوهم ځل بيا دانوي قانون دولسي جرګي له خواه داساسي قانون د۹۷ مې مادي پر اساس  درایو په لوي اکثریت رد کړل سوو ۰

ولي د ټولټاکنو کميسون دولسي جرګي دنوو ټاکنو پروسه دجمهور رئیس  دهغه نوي تقنيني فرمان ( دټولټاکنو نوي قانون ) له مخي شروع کړل ، او څو ځلي دټولټاکنو دکميسون له خواه جمعي رسنيو ته په ډاګه سول ، چی موږ دولسي جرګي ټاکني دنوي قانون پر اساس مخ ته بيايو ځکه داقانون رسمي بڼه  نيولي ده ۰

اوس به وګورو چی د جمهوري رياست حقوقي مشاورين او دټولټاکنو کميسون پر حق دي ،او که ولسي جرګه ! اوو به ګورو، چی په دې مسله کښي  کوم ارګان داساسي قانون دتطبيق په وړاندي ستونځي  را منځ ته کړي دي :

ګر چی "کرزي صاحب" دټولټاکنو دکميسون په غونډه کښي دنورو څرګندونو تر څنګ داهم په ډير وضاحت وويل چی : دجمهوري رياست په ټولټاکنو کښي يو شمير بهرني هيوادونو ډير کوښښ وکړ چی يوکوټلي  او زخمي دولت په وجود راوړي ، او هم نور کوښښ کوي چی پارلماني ټاکني هم غير مشروع مخ ته بوخي ، ځکه نو ولسي جرګه بايد دملي ګټو په نظر کي نيولو سره بيداره واوسي ۰

ولي وروسته داسي معلومه سول چی دبهرنيانو تر لاس وهنو تر مخه د  ده حقوقي مشاورينو له خواه څخه دولسي جرګي دټاکنو پروسه عملاً پر  غير مشروع لاره روانه سول ، چی په دي اړوند نيژدي يوه نيمه مياشت مخکي دآريانا دټلويزيون په يوه ګردي ميز کښي دولسي جرګي غړي ( محترم ياسيني ) څخه پوښتنه وسول ، چی ولسي جرګي خو دا نوي قانون دوه ځله رد کړ ، نو دکومومنطقو پر اسا س دولسي جرګو اوسنيو غړو درد سوي قانون له مخي خپل ځانونه دولسي جرګي  وراتلونکو ټاکنو ته ونومول ؟ ولي په جواب کښي يي  بي له کوم دقيق دليله څخه داسي  وويل : چی داکارموږ  ديوه ضرورت پر اساس تر سره کړي دي ، چی هغه ولس ته خدمت کول دي ۰

په داسي حال کي چی دولسي جرګي غړي  بايد داساسي قا نون له مخي مخ ته تللي واي ، ولي متاسفانه دوي دشخصي ملحوظا تو له کبله داسا سي قانون څخه په سر لغړونه درد سوي قانون پر اساس ځانونه کانديد کړل ۰ ځکه نو دولسي جرګي داټاکني به خپل مصنوعي مشروعيت هم دلاسه ورکړي ۰

نو د دې مسلي دښه وظاحت له پاره لازمه ده چی داساسي قانون ۷۹ يمه او ۱۰۹ مه مادي دلته رانقل کړو :

۷۹ يمه ماده ـــ حکومت ميتواند در حالت تعطيل ولسی جرګه درصورت ضرورت عاجل ،به استثنای امور مربوط به  بودجه وامور مالی ، فرامين تقنيني را ترتيب کند ۰

فرامين تقنينی بعد از تو شيح رئيس جمهور حکم قانون را حايز ميشود فرامين تقنينی بايد در خلال سي روز بعد از تاريخ انعقاد نخستين جلسه شوراي ملی به آن تقديم شود ۰ ودر صورت که از طرف شورای ملی رد شود از اعتبار ساقط می ګردد ۰

۱۰۹ مه ماده ــ پیشنهاد تعدیل قانون انتخابات در یک سال آخر دوره تقنینیه ، نمی تواند در فهرست کار شورای ملی قرار گیرد ۰

د اساسي قانون د ۷۹ يمي مادي څخه په ښکاره وضاحت معلوميږي چی دجمهوري رياست تقنيني فرمان په وړاندي دولسي جرگي دوه ځلی رد سوي فيصلي پر حق دي ۰ حکومت بايد ۷۹ يمه ماده په نظر کي نيولي واي نه دا چی دوي د ۱۰۹ مي مادي پر اساس کوښښونه کول ، دا ځکه چی دا يو تقنيني فرمان وو ۰ بايد جمهوري رياست د۷۹ يمي مادي پر اساس مخ ته تللي واي ۰ ولي که دا يوازي دټولټاکنو په قانون کي تعديلات واي بيا نوداساسي قانون له مخي ضرورت ددې هم نه احساسيدي چی دتائيد له پاره ولسي جرگي ته وروليږي ۰ دا ځکه چی په هغه صورت کي بيا داساسي قانون د۱۰۹ مادي پر اساس جمهور رئيس عام او تام صلاحيت درلودي ۰

ولي بايد وويل سي چی په دې وروستيو ورځو کي ځيني اطلاعات اوريدل کيږي چی دحکومت او ولسي جرگي درهبري تر منځ ددې قانون په هکله ځيني جوړجاړي رامنځ ته سوي دي ۰ او داسي هم اوريدل کيږي چی جمهور رئيس د ټولټاکنو نوي قانون ملغي کړي دي ، ولي په واقعيت کي په جمعي رسنيو کي په دې هکله څه نه دي په ډاگه سوي ، ځکه نو ويلاي سو که دولسي جرگي دټا کنو پروسه دنوي قانون پر اساس پر مخ ولاړه سي ، نو دابه داساسي قانون څخه په سر لغړونه هيڅ نوع مشروعيت ونه لري ۰

تمت باالخير